دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټـــاکنو خپلواک کمیسیون

جمهوری اسلامی افغـــانستان
کمیسیون مستقل انتخـــابات

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

---

**د ټولټاکنود خپلواک کمیسیون ټولو کارکوونکو او چاړواکو ته د ۳۰ تله نیتي لاربښوونه**
**د نوم لیکنې په اړوند د معلوماتو خپرېدل**

**ددغې پالیسی موخه**

۱ - دغه پالیسي د نوم ثبتوني په اړه د معلوماتو د وړاندې کولو اود ټاکنوله خپلواک کمیسیون څخه په بهرو اشخاصو باندې د هغه د وېشلو په منظور برابره شوې ده چې دغه معلومات باید :

- د غوره معلوماتو پربنسټ چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په واک کې دي .
- د امکان تر پولې پورې دې دقیق او سم وي .
- د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارالانشا د اداري هیات له خوا دې ولوستل شي .
- د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له نور ویناوو سره دې سمه وي .

**په لومړي ګام کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارلانشا اداري هیات ته د معلوماتو لیږدول**

۲- په هغو لاربښوونو کې چې د ټاکنو دخپلواک کمیسیون د دارلانشا د رییس له خوا صادر شوې دي، ویل شوی چې د درایو ورکوونکو د نوم ثبتوني او د یو شمېر اشخاصو د نوم لیکنې د بهیر په اړه ټول معلومات باید د نوم ثبتوني د مرکزونو له لارې په مستقیم ډول د ساحوي عملیاتو د فتر ته ولیږدوي او بیا دې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارالانشا اداري هیات ته ولیږدول شي .

**له لوستلو ورسته د ټاکنودخپلواک کمیسیون د بهرنیو اړیکو د فتر ته د معلوماتو لیږدول**

۳ – معلومات د دلارالانشا د اداري هیات له خوا له لوستلو وروسته د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د بهرنیو اړیکو ریاست ته استول کیږي چې د خلکو د پوهاوي په موخه خپاره شي .

**د معلوماتو لپاره وړاندیز**

۴- که چېرې کوم شخص د نوم لیکنې په اړه د معلوماتود ترلاسه کولوپه خاطر ددغه کمیسیون مسوول یا کارکوونکي ته مراجعه کوي، د غه شخص باید د سمو اونویو معلوماتود ترلاسه کولو د ډاډ لپاره د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د بهرنیو اړیکو ریاست ته وروپیژندل شي .

چې په دې کې :

- د خلکو
- د افغانستان د اسلامي دولت رسمي کارکوونکو
- دولت ، ټولني او یا بهرني سفارت
- ملي او نړیوالي رسنی
- د ملګرو ملتو او په هغه پورې اړوندو نورو دفترونو
- کورنی یا بهرنی کتوونکي
- سیاسي ګوند یا د هغه د استازي
- د اشخاصو او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون بهر نورو بنستونو وړاندیزونه شامل دي

**د معلوماتو د پالیسی په اړه شکایتونه**

۵- که چېرې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مسوول یا کارکوونکی ددغې پالیسی په اړوند د کوم فرد له خوا کوم شکایت ومومي ، له دغه شخص څخه دې وغوښتل شي چې خپل شکایت ددغه کمیسیون د بهرنیو اړیکو ریاست ته وړاندې کړي تر څو چې خپل شکایت ددغه ریاست رییس ته بیان کړي .

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له ټولو کارکوونکو او ملي او نړیوالو سلا کارانو څخه غوښتنه کیږې چې دغه پالیسی رعایت اودرناوې وکړي.